دافغانستان اسلامی جمهوریت
د تـــــاکنو خپلواک کمیسیون

جمهوری اسلامی افغـانستان
کمیسیون مستقل انتخـــابات

Islamic Republic of Afghanistan
Independent Election Commission

# د ټاکنو خپلواک کمیسیون پریکړه

| | |
|---|---|
| د پریکړې شمیره : | ۳۱- ۱۳۸۹ |
| موضوع: | - د پایلو د راټولولو کړنلار؛<br>- د پایلو تصفیه او څیړنه د پایلو د ثبت ملي مرکز کې؛<br>- د رای ورکوني مرکزونو او محلونو په کچه د روان کال د ولسي جرګې د ټاکنو فورمو ته عامه لاس رسی؛<br>- وړاندیز کوونکو ادارو او رسنیو ته د باور لیکونو ورکول؛ |
| سرچینه: | د ټاکنو خپلواک کمیسیون د دارالانشاء ریاست |
| وخت،تاریخ او د ملاقات ځای: | د ۱۳۸۹ل کال د وږي ۳ چي د ۲۰۱۰ز کال د اګست له ۲۵ نیټې سره سمون خوري. د ټاکنوخپلواک کمیسیون مرکزي دفتر. |
| حاضر غړي: | ښاغلی فضل احمد معنوي، ښاغلی سترجنرال ایوب اصیل، ښاغلې مومنه یاري، ښاغلې مستوره ستانکزی، ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني، ښاغلی قاضي سلیمان حامد او ښاغلی عبدالخالق حسیني پشه ئي. |

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د اساسي قانون د (۱۵۶)مادې او د ټاکنو د قانون د (۶۶) مادې له خوا د ورکړل شوي صلاحیت پر اساس:

د ټاکنو خپلواک کمیسیون پر اجندا کې د دخیلو موضوعګانو پر هکله پریکړه کړې:

۱- د روان کال د ولسي جرګې د ټاکنو د راټولولو کړنلار د تایید او تصویب وړده.

۲- د پایلو څیړنه او تصفي کړنلار د پایلو دثبت ملي مرکز کې د تایید او تصویب وړ ده.

۳- د روان کال د ولسي جرګې د ټاکنو د لا رونوالي لپاره د رایو ورکوني د محلونو په کچه د پایلو فورمې د کمیسیون په ویب پانه کي د خپرې شي.

۴- د څرګندو اسنادو په نظرکې نیولو سره د لاندې یاد شویو ادارو ته دې باور لیکونه ورکړل شي.

د افغان ملت ګوند

د هالنډ سفارت د نړیوالي څارونکي اداري په حیث

د جنګ او صلحې راپورونو انستیتیوت

باختر خبري اژانس

د هرات ولایت زحل FM راډیو